مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۱/۲۶

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو پنځه اتیایمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

ماشي: ۴۲ – ۳۶ ، ۵۷ – ۶۶ (ن): دا د بلخ د سویل ختیځ په ۷ مایلی کې یو کلی دی چې د وزبیکانو ۵۰ کورونه په کې ودان دي. (میتلند) *اوسنی نقشې دا نوم د ماشي په ډول ښیي.*
مسجدِ سبز: ۵۲ – ۳۵، ۲۰ – ۶۶ (ن): دا د سنګچارک په ولسوالی کې یو کلی دی چې د خواجه تګاو په پورتنۍ برخې کې واقع او د وزبیکانو ۱۳۰ کورنۍ په کې اوسیږي. (اي. بي. سي.) *دا کلی د سنګچارک د سویل په تقریباً ۸ مایلی کې واقع دی.*
* **مسعود:** ۰ – ۳۶، ۱۵ – ۶۷ (ن): دا د صوف درې ته نیږدې د صوف د درې د شمال تقریباً ۱۰ مایلی کې یو کلی دی. په دې نامهٔ بل کلی وړاندې ختیځ لور ته په ۰ – ۳۶، ۱۸ – ۶۷ (ن) کې واقع دی.
* **مزار**: ۴۹ – ۳۵، ۴۸ – ۶۶ (ن): دا د تونج په سویل لویدیځ کې چهل ګزي ته نیږدې یو کلی دی.
مزار دره: ۲۸ – ۳۵، ۳۴ – ۶۶ : دا د بلخ آب د ولسوالی یو ځای دی چې د تاجیکانو او سیدانو ۲۲۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (اي. بي. سي.) *اوسنی نقشې په دې سیمې کې د (کوهٔ مزار) په نامهٔ یو غر ښیي.*

مزار شریف: ۴۲ – ۳۶، ۶ – ۶۷ (ن): *دا یو مهال د افغانستا په شمال مرکز کې د یوهٔ ولایت نوم وو چې د جوزجان، بلخ او سمنګان ولایتونه ئې برخې وې. په ۱۹۶۰ز کال کې د مزار شریف ولایت د شبرغان د ولایت په جوړیدلو سره له ارضي اړخه رالنډ سو او بیا د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې دا ولایت په څو برخو وویشل سو لکه جوزجان (د شبرغان پر ځای)، سمنګان او بلخ (د مزار شریف پر ځای).*
د مزار شریف د ولایت په هکله د لا نورو معلوماتو لپاره د جوزجان، سمنګان او په ځانګړې توګه بلخ وګورئ چې مزارشریف ئې اوسمهال مرکز دی. دا ولایت په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی وو:
دا د ولایت یو اداري مرکز دی.
دا ولایت په ۱۸۸۶ز کال کې په لاندې ډول وو:-
لومړی: د ښار ورځیرمه همواره دښته د شاهي، قدر، مشتاق او سیاه ګرد په نهرونو خړوبیږي. دا مستقیماً د سردار اسحق خان له پلوه اداره کیږي خو د مالیاتو ټولو ئې په قرار دارد ورکول کیږي. (وګورئ "هژده نهر")
دوهم: د شور تپې د سیند د غاړې ولسوالی د کلف ختیځ کې (وګورئ اکسوس)
دریم: چهار کنت مزار شریف بلافاصله د ښار سویل کې په غرونو کې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

څلورم: بوینقره
پینځم: کِشندِه
شپږم: آق کپروک
اووم: تونج
د بندِ امیر پر غاړې کوچنۍ علاقې
د وروستیو پینځو یادوسویو ځایونو د وګړو او نورو په هکله معلومات د " بند امیر" تر سرلیک لاندې راغلي دي.

مزارشریف: ۴۲ – ۳۶، ۶ – ۶۷ (ن): *دا د بلخ د ولایت مرکز دی (چې په همدې نامـۀ د ښارګوټي په تقریباً ۱۳ مایلۍ کې واقع دی) او هم د یوې ولسوالۍ نوم دی چې ۴۸ کیلومتر مربع مساحت لري. د ښار په هکله ډاډمن معلومات مو په لاس کې نـۀ سته. یو شمیر سرچینې وایي چې مزارشریف په لومړیو کې د «خیرو» او بیا د «خواجه خیران» په نوم یادیدۀ او بیا د څلورم خلیفه «حضرت – ژ» علي د نامـۀ په درناوي چې ویل کیږي همدلته دفن دی د مزارشریف په نوم ونومول سو.*
سي. جي . شارپنتییر د ۱۹۷۰ز لسیزې په لړ کې د مزار شریف د شرحې په لړ کې وایي " دا د معاصرې ښار جوړونې د اصولو او پلان له مخ په سترو واټونو سره معاصر ښار دی چې د ښي لاس په زوایاو کې تقاطع مومي او دوه یا درې پوریزه کورونه لري. دلته سرپوښلی بازار نـۀ سته خو اوس نسبتاً معاصر ډوله هټۍ لري چې د هټیو مخې ته ئـې ښیښې ایښودل سوي او د موټرانو لوی لوی سرایونه لري. مزار شریف د سوداګرۍ یو مهم مرکز دی چې د قره قل د پوستکو، غالیو او ختکیو په صادراتو کې شهرت لري. د نوي کال په شپو ورځو کې مزار او د مزار مقدس زیارت ته زایرین ډله ډله راځي، په دوی کې شلان او ناروغان هم په دې هیلې راځي چې که د دوی د درملنې کومه معجزه ورته وسي. مزار شریف په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی. لوړوالی ۱۲۳۵ فیټه.
دا د افغان تورکستان د ولایت مرکز دی چې له کابل څخه د بامیانو له لارې ۲/۱ ۳۱۹ مایله لیرې دی. دا ځای د (حضرت – ژ) علي د ښخیدلو د ځای په پار یو مقدس ځای منل سوی دی چې د پینځلسمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې سلطان علي میرزا د دغـۀ مرقد له پاسه دوه دنګې ګنبدې ودانې کړلې.
دا ځای د هغه تقدس او کراماتو له مخې شهرت لري چې د دې ځای د متولي حضرت شاه له پلوه ښودل کیدل. په کال کې یو ځل یوه میله جوړیږي، په دې میلې کې ړانده، ناروغان، ګوډان او نور ناقص العضو کسان له ډیرو لیرې ځایونو مزار ته ډله ډله راځي او د زیارت په شاو خوا کې پاتې کیږي او شپه او ورځ د ولي کراماتو ته سترګه په لاره وي چې که خدای پر دوی باندې خپل رحمت ووروي. دا کرامات هغه مهال خپل ځان څرګندوي چې د (حضرت – ژ) علي پر مرقد باندې د ګلاب ګل وغوړیږي؛ (وامبري) وایي چې دا هغه خوږ بوی دی چې دۀ په ژوند کې بل چیرې نـۀ وو حس کړی. په دې ډلې کې یو شمیر کسان خپله روغتیا بیرته ترلاسه کوي ښایي هغـۀ مهال ښـۀ سي چې بوی په هوا کې خپور سي او یو شمیر خو ځای پر ځای مري او غټ شمیر کسان بیرته په خپل راغلي ناروغ حالت بیرته خپلو مینو ته ستنیږي او په ساندو او اوښکو کې خپل ایمان او خپل ګناهان ژړوي خو هیڅکله د حضرت شاه توان او قدرت تر پوښتنې لاندې نـۀ راولي. دا میله د (سرخ ګل میله[1]) "میلـۀ ګل سرخ" (د سرو ګلابو د میلې) په نوم یادیږي چې په نوروز کې (د مارچ پر ۲۱) پیل کیږي او تر ۲ میاشتو یا تر (روژې[2] ؟) دوام کوي. (یعنی کله کله روژه د دوه وو میاشتو له پای مخکې هم راځي.) د زیارت په هکله (ګرودی کووف[3]) وایي:
" وزبیکان وایي: کله چې "حضرت – ژ" علي وفات سو جسد ئـې د یوۀ سپین اوښ پر اوږو کښیښودل سو او آزاد پریښودل سو چې هرې خواته وغواړي لاړ دې سي.
"مسلمانانو پریکړه وکړه چې حضرت به په هغـۀ ټکي کې خاورو ته وسپارل سي چې اوښ ورباندې ودریږي. اوښ د ډیر اوږد وخت لپاره لالهانده ګرځیدۀ او له ډیر اوږدۀ مزل وروسته مزار شریف ته ورسید او اوس دومره ستړی وو چې نور پر ځمکه ولوید. دا یوه اوښه وه، د اوښې له رالویدلو سره سم اوښه ئـې په بلې ډډې واوړوله او حضرت ئـې دقیقاً پر هماغـۀ ځای ښخ کړ چې اوښه ورباندې پریوتلې وه. فارسیان په دې افساني پورې خاندي او واقعیت ئـې نـۀ مني.
فارسیان وایي چې "حضرت – ژ" علي په کربلا کې دفن سوی دی.
ښاغلی تربک د مورکرافت د لارې ملګرې په مزار کې مړ سوی دی او جسد ئـې د ښار د لویدیځ په یوې کوچنۍ هډ ایرې کې ښخ دی.

---

[1] - Surkh Gul Mela

[2] - دلته سي. جي شارپنتییر تیر وتلی دی ځکه دی ګومان کوي چې روژه د هجري شمسي د تقویم پر بنسټ نیول کیږي حال دا چې روژه د هجري قمري د تقویم پر بنسټ راځي. - ژ

[3] - Grodekoff

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۱۸۴۵ز کال کې د فرییر د غیر ډاډمنو د معلوماتو پر بنسټ مزار د یوۀ کوچني مستقل خان مرکز وو چې د ۲۵۰ تنو سپرو ځواک ئـې درلود او دا وړتیا ئـې درلودله چې په بیړني حالت کې ۱۰۰۰ تنه نور هم راټول کړي. له هغـۀ مخکې مزار د کندز د مراد بیگ تر اداري لاندې وو. په ۱۸۵۲ز کال کې د مزار شریف حاکم او استوگنو وگړو د بلخ د افغان والي پر ضد پاڅون وکړ خو مزار شریف ورڅخه ونیول سو. دې کار د وزبیکانو په منځ کې چې په پاڅون کې ئـې گډون درلود ستره دښمني رامنځته کړه خو ډیر ژر وځپل سول؛ او د دې ځای «مزار شریف» حاکم چې نیول سوی وو له خپل زوی محمـد افضل سره یو ځای اعدام سو، له همدې نیټې وروسته د حاکم مقام او مزارشریف د افغانانو (پښتنو-ژ) په لاس کې پاتې سوی دی.

د شیرعلیخان پر مهال د ولایت والي محـمد علم خان ښار داسې سمسور کړ چې اوسنی سمسورتیا ئـې موږ وینو. نوموړي پراخ سړکونه جوړ کړل، څو سرایونه ئـې جوړ کړل او د چهار باغ بنسټ ئـې کښیښود. پیکاک وایي چې مزار د محـمد علم خان له وخته " کرار کرار له بلخ څخه خپل ارجحیت او لومړي مقام واخیست او د حکومت په اداري مرکز او د تورکستان د سوداگرۍ په مرکز بدل سو. په ۱۸۴۰ز کال کې د بخارا امیر نصیرالله بلخ ونیو او وران ویجاړ ئـې کړ او له هغـۀ وخته راهیسې بلخ نسبتاً متروک ځای دی چې تقریباً ۷۰۰ کورنۍ په کې ژوند کوي او د نړیدلو په حال کې یو زوړ بازار لري. د مزار شریف راښکون یا انجذاب عمدتاً د مزار شریف د مقدس جومات له کبله دی. تخته پل هغه لومړنی ځای وو چې محـمد افضل خان د حکومت د اداري مرکز په توگه غوره کړ خو وروسته مزار غوره سو. د ښار تر زړې برخې یو نری د نړیدو په حال کې دیوال راتاو وو چې اوس ئـې ځای د مسجد ودانیو او یوۀ لوی خوار اسکیرلي بازار نیولی دی. د همدې ځای گرد چاپیره نوی ښار په چټکی سره د ودې په حال کې دی او نوې ودانۍ او باغونه د همدې سیمې په ټولو گاونډیو برخو کې مخ په جوړیدو دي. ښار په بشپړ ډول د شاهي کانال په اوبو پورې تړلی دی او اوس ښکاري چې دا کانال د ښاري اړتیاوو لپاره کافي اوبـۀ نـۀ سي برابرولای؛ اوس په دې خبرې رواني دي چې وکولای سي له امام بوکري څخه یو بل نوی نهر راوغځوي. د مزار مسجد په دې وروستیو کې د یوۀ سردار له پلوه له سره رغاول سوی دی چې گنبدۍ او منارونه ئـې په کاشي مینا کاري سوي دي او سره له دې چې دومره ورجست نـۀ دی خو مسجد ته ئـې ښکلې بڼه ورکړې ده. زایرین دې ښار ته ډیر راځي؛ د دغو زایرینو لویه شمیره چې ما لیدلې ده میرمنې دي."

دا ښار په دې له تاشقرغان سره ورته والی لري چې د نورو عادي ښارونو برعکس دا ښار هم د تاشقرغان په شان د میوو گڼ بڼونه او نور باغونه لري چې خلک په کې استوگن دی. دا ښار دیوالونه نـۀ لري خو د تاشقرغان په شان دروازې لري.

دا ښار شپږ دروازې لري چې نومونه ئـې په لاندې ډول دي:

ختیځ ته – پاده خانه، یا د تاشقرغان دروازه

شمال ته – د سیاه گرد دروازه او د یخدان دروازه

لویدیځ ته – د بلخ یا د تخت پل دروازه

سویل ته – د شادیانو دروازه او د ململ دروازه

د مزار شریف بالا حصار د معمول په شان په کومې لوړې غونډۍ نـۀ دی ولاړ او په بشپړ ډول د ښار او د ښار د ورڅیرمو سیمو د میوو په باغونو او نورو کې پټ دی. په ۱۸۸۶ز کال کې دغـۀ بالاحصار د افغان ستیرو دوه وو کنډکونو (هر کنډک ۶۰۰ تنه) لپاره ئـې بارکونه درلودل: همدا شان د وسلو د ساتلو او جوړولو او د وسلو ورکشاپونه ئـې درلودل.

همدا شان، په ښار کې یوه چونۍ هم سته.

د وسلو د ساتلو او جوړولو په ځای کې ۷۰۰ تنه کارگران ول او د تورکستان د وسلوال ځواک لپاره ئـې د اړتیا وړ هر شي او هره وسله جوړوله، د نرم بور توپونه، د توپ د لیږد عرابه، دهن پر توپک، توري او قمې او خنجرونه ئـې جوړول. همدا شان ئـې د جاغر لرونکو توپکو لپاره ئـ مهمات هم جوړول.

په دوبي کې ئـې تودخه ډیره او ځورونکي وي او په ټوله کې د سرتیرو د پاتې کیدلو لپاره مناسب ځای نـۀ دی.

پیکاک د مزار د وگړو په هکله وایي:-

"د مزار د وگړو شمیر تقریباً ۳۰۰۰ کورنۍ دی چې عمدتاً د اعرابو، وزبیکانو او د څو هندو سوداگرو یو گډ قومي ترکیب دی. په ښار کې او د ښار ورڅیرمو سیمو کې ټولټال ۶۰۰۰ کورنۍ دي." (میتلند، پیکاک)

"د امیر حبیب الله کشر ورور غلام علي جان همدلته ژوند کوي. نوموړی اسماً د افغان تورکستان والي دی خو عملاً د عبدالله خان په قوم توخي تر چتر لاندې کار کوي.

ویل سوي چې د ولسوالۍ حاکم هماغه محـمد صادق دی.

د مزار گارنیزیون تر ډیرې په ډه دادي کې ځای پر ځای دی. (وگورئ دادي)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د اړتیا وړ توکو یا تدارکاتو لپاره وګورئ ۲۶۳ پاڼه. ویل سوي چې مزار اوس د روسیې د خاورې لپاره د سوداګرۍ یو لوی مرکز سوی دی او د تاشقرغان پخوانۍ سوداګرۍ ئـې هم ځانته راکاږلې ده. واردات په کلف ګان له کښتیو کښته کیږي او د اوښانو پر شا دلته راوړل کیږي. صادرات پته کسر ته ځي او له هغـۀ ځایه د سیند له لارې تیریږي. دلته د هندو سوداګرو یوه د پام وړ شمیره استوګنه سوې ده. ویل سوي چې روسان حتی الوسع کوښښ کوي چې سودا ګري وده او راکړه ورکړه ورسره ډیره سي، روسان افغان سوداګرو او دلالانو ته ۱۰/۱ د هغو شیانو بیرته ورکوي چې د روسي متاعو په پیرودلو ئـې خرڅوي.

د ښار له منځه نهر شاهي تیریږي چې له لویدیځه مخ پر ختیځ بهیږي او د اوبو د برابرولو اساسي سرچینه ئـې په آسانۍ سره قطع کیدای سي خو د ځمکې له سطحې ۵۰ فیټه کښته بیا هم اوبـۀ تر لاسه کیدای سي.

د ښار سویل او شمال ته دښته په دوبي کې عملاً یو تش سپیرۀ ډاګ وي. (آی. بي. سي. ۱۹۰۶)

مهتر آبل: ۲۲ ــ ۳۶، ۱۳ ــ ۶۷: لوړوالی: ۸۰۰۰ فیټه؟ دا یو کوتل دی چې له شاه انجیر څخه تر شادیانو پورې لاره ورڅخه تیریږي. ویل سوي چې دا کوتل د اوښانو د تګ لپاره عملي دی او شک نـۀ سته چې د باروړونکو کچرو د تګ لپاره هم مناسب دی. ویل سوي چې دا کوتل د نورو هغو کوتلونو په پرتله آسانه دی چې لوړې سطحې ته لاره ورکوي؛ او ورته د سړک له لارې له شاه انجیر څخه د «قره ولي دشت» له طریقه په ۴ مایلو کې رسیدلای سئ: خو کوتل ته ختل عملاً له ختیځې برخې کیږي چې ډیره ستوغه لاره ده. باور دا دی چې د کوتل سر ته د ختلو لاره د یوې تنګې ژورې درې له منځه چې لوړوالی ئـې کیدای سي له شاه انجیر څخه ۲۵۰۰ فیټه لوړ وي کیږي. د کوتل سر کې لاره په آسانۍ سره «ګاو درې» ته ختلي ده. دا لوړه سطحه کنډو ده، دا کنډو تیټو غرونو او خط الرأسونو جوړ کړی دی او له ډډو ئـې کوچنۍ ژورې درې او تشې کښته تللي دي؛ دا ځای له ونو محروم دی، خو دلته د پسونو او اوښانو پوندې سته او په پسرلي کې په ځینو ځایونو کې پریمانه واښه لري. په اووم مایل کې لاره یوۀ تیټ اوب یللونکي یا آب پخشان ته رسیږي چې د اوبو د کښته کیدلو لاره ئـې د مهتر آبیل کوتل ته ده. دا ځای د چشمـۀ میدانک په نامـۀ یادیږي. همدلته د کافر قلعه له کوتل څخه لاره راغلي ده.

له تقریباً ۳ مایلو وروسته د کمانګر تنګې اوږدې ژورې درې ته د کوزیدلو د لارې سر رسیږي. د کښته کیدلو لاره نسبتاً شیوه او سرځوړې ده خو لاره په نرمې خاورې کې ده. د کښته کیدلو د لارې اوږدوالی نیم مایل دی؛ سقوط ۳۷۰ فیټه. د کمانګر تنګې درې ته (چې له شاه انجیر څخه ۱۰ مایله لیرې ده) د ایبکو لاره له ښي لورې راغلي ده. (ای. بي. سي.)

* **منګجک**: منګه جیک: ۲ ــ ۳۷، ۷ ــ ۶۶ (ن): دا د جوزجان د ولایت په شمالي برخې کې یو کلی او یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۹۵۲ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وګړو شمیر تر ۱۳۵۰۰ تنو پورې اټکل کړی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له شبرغان او خمیاب، له شمال لوري له قرقین، له ختیځ لوري له مردیان او آقچې او له سویل لوري د خانقاه له ولسوالیو سره کرښه لري. د منګجک ولسوالي ۳۳ کلي لري چې ۹ کلي ئـې له ۵۰۰ ډیر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په دې ډول لیست کړي دي.

چهار چنغو	هارونِ اول	هارونِ دوم	منګجک اعلی بیرون
شیخ راضي	دالي تورکمنیه	سفر ولي ــ ی- اول	سفر ولي ــ ی- دوم
بالجه عبدالرحمن	جوی اوراز	جوی شاه خان	قور چنغوی مهاجر
قورچنغوی وطني	قوی نالي وطني	قوی نالي مهاجر	قره دک
قزل اياق اوده کار	الم لیکِ کهنه	خال جبه چي	عباس
خطاب	منګه جیک قول آجر	منګه جیک فراري	قازانِ قلاق
ایرلدي	اسلام اق میدان	سلطان اریغ	دالي افغانیه
قازان نراو	قفاني ــ ی ــ دوا رقه	قفاني ــی- یار محمد	جرق و دق
حیدر آباد			

د منګه جیک د کلیو د شرحې لپاره وګورئ منګه جیک.

* **میانه**: ۳۵ ــ ۳۵، ۴۷ ــ ۶۵ (ن): دا د قرغیتو د سیند پر غاړه یو کلی دی چې د قرغیتو د سویل ختیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې موقعیت لري. په دې نامـۀ بل کلی په «درۀ دای میرداد» کې د قلعه؟ د سویل په ۱ مایلۍ کې په ۵۷ ــ ۳۵، ۱۷ ــ ۶۷ (ن) کې موقعیت لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دِه میانه: ۴۷ – ۳۵، ۴ – ۶۶ (ن): دا د سرپل د قچان په علاقه داری کي دوه کلي دي: دِۀ میانه پائین او دِۀ میانـۀ بالا چي په دۀ میانـۀ پائین کي ۲۵ او دِه میانه بالا کي ۸۰ کورونه دي دا ټول کورونه د شاهي هزاره ګانو دي. له همدي ځایه یوه لاره د قچان د سیند پر غاړه تر بای پوري تللي ده، دا لاره په یوي ښایسته او په بوټو پوښلي تشي ورخیږي او ډیره آسانه لاره ده. (اي. بي. سي.) *پورتنی کلی ئـي دِه میانـۀ بالا دی؛ "دِۀ" میانـۀ پائین په ۴۸ – ۳۵، ۴ – ۶۶ (ن) کي موقعیت لري.*

* **میان دره**: ۴ – ۳۶، ۴۱ – ۶۵ (ن): دا د «دیګ دري» په تنګي کي د قره خوال د شمال ختیځ په څومایلی کي یو کلی دی.

نور بیا

مچتک: مسجدک

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ